لیکونکې: جیک ای سمت(Jack E Smith).



سرچینه او دخپریدو نیټه : ګلوبال ریسرچ «۲۰۱۴-۱-۷».
ژباړونکې : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

---

# ولی دامریکی متحده ایالات غواړي چي په افغانستان کی پا تي شي ؟

## Why The US  Wants To Stay in Afghanistan?

ددی احتمال وړل کیږی چي دامریکي متحده ایالات ددی نوی کال په پای کي خپل ټول سرتیری له افغانستان څخه وبا سي اما «اوباما» دامریکی دعامه خلکودنظر اودباور په خلاف په دی لټه کي دي چي دخپل د څوزره کسیز ځانګړی قوتونو، نظامی ترینران یاښونکي دسی آی ای(CIA) پوری تړلی پرسونل ،نظامی سا تونکی یادفاعی پیمانکاران او نظارت کونکی ماهران اوکارپوها ن د لسو نورو کلونو د پاره په افغانستان کی د (۲۰۲۴) کال پوری میشته وسا تي.

دهغه سرویی اواحصا یه ګیری له مخي چي د(CNN/ORC) ماهرانو اود کارشنا سا نو پواسطه سره ددسمبر د میاشتی په دیرشم کال (۲۰۱۳) کی ترسره شوی وه داسی ښودل شوی چي (۷۵) په سلو دامریکی دمتحده ایالاتو خلکو په افغانستان کی دخپلو سرتیرو دپاتی کیدو سره مخا لف دی اوغواړی چي دهغوی سرتیری د مخکینی مهال ویش سره کوم چي ددسنبر (۳۱) نیټه ښودل شوی له افغانستان څخه دی بیرته امریکی ته راستون کړل شي .

همدارنګه دامریکی دمتحده ایالاتو اکثر خلکو غواړی چي دهغوی سرتیری مخکی ددسمبر دمیا شتی کال (۲۰۱۴) له افغانستا ن څخه ووځي.

دهغه ترسره شوی ټول پوښتنی مهم احصایوی ارقام په دی لاندی ډول سره وړاندی کیږي :

دهغه ټول پوښتنی په ترڅ کی چي یواځي دامریکی دمتحده ایالاتو د (۱۷) فیصد خلکو څخه پوښتنه ترسره شوی وه دهغوی (۵۲) په سلوکی خپل ملاتړ په افغانستان کی ددغه دولس کلن اوږد جګړی څخه ښودلی وه . اما په اوس وخت کی د امریکی (۸۲) فیصد خلکو ددی جګړی سره مخا لف دی کوم چي پنځه کاله دمخه ددی جګړی سره دمخا لفت اندازه (۴۶) فیصد وه ، کیټنګ هالیند (Keating Holland) د (CNN) دنظرخواهی یا ددغه ټول پوښتني مد یر په دی اړه داسی وړاند یز کوي اووایی: دغه (۱۷) فیصد خلکو

دامریکی دټول سرشمیرنی  په انډول ډیر کم دی اودامریکی دټول خلکو څخه استاذیتوب نشی کولي ، حال  داچی  دامریکی  ډیری  خلکو ددغه جګړی   اود هغه ددوام سره خپل شدید مخا لفت اوضد یت  ښکاره کوي .

نن  په ډاګه سره  دامریکي (۷۵)  فیصد  خلکو  پر افغانستان باندی  کوم چی په کال (۲۰۰۱) کی یرغل اوتهاجم ترسره شو په کلکه سره  دغه یرغل  نه یوائی داچي غند ی بلکه هغه ته یوناکام اوغلط عمل وایی اودنوموړی جګړی د سمد ستی  توقف غوښتونکی دي.

دبلی خوا څخه دا یو انکار نه منونکي  واقیعت دي چي دامریکي دمتحده ایالاتو خلکو په افغانستان کی ددغه اوږد مهال جګړی سره تر ستونی راغلی دي اوهر یوه امریکایی غواړی چی دغه جګړه سمدستی بند شی امادبل اړخ څخه لاتراوسه  دجګړی په وړاندی کوم بل ټاکونکي بدیل یا التزناتیف نه تر سترګو کیږي چی څه باید وشي ؟  کوم  چی په افغانستان کی داږودی مودی دپاره  ددغه نظامی شخړی تغر ټول کړل شي. یو وخت  یا په یوه دوره کي  دجګړی ضد کتلوی غورځنګ داکثرو دموکراتا نو له طرفه ملاتړ کیدل اماکله چی اوباما په انتخاباتو کی دامریکی دمتحده ایالاتودجمهوری ریاست په چوکي کی ډده ولګول   دغه ددموکراتانو ملا تړ هم  خپل لمن  ټول کړل  اوچا دهغه  په  قصه  کی ونشو ، اما بیاهم  ځنی ځنی وختونه  اکثر د موکراتا نو دهغه شناخت  اوپوها وی په لرلو سره خپل نیوکي  اومخا لفت داوباما داداری سره څه دافغانستان دحالاتو اویا  د بی پیلوتو الوتکو د بمبا ری  په وړاندی کوم چي په یمن ، پاکستان سومالیا اونورو ځایو کی ترسره کیږی  ښکاره کوي.






جمهور ریس «اوباما» پخپل  مخکینی قول او  قرار ولاړ دی   چي  باید  خپل  پلی یا ځمکنی سرتیری د (۲۰۱۴) کال په پای کی  دمخکیني مهال ویش سره  سم له افغانستان څخه  وباسي   اما دهغه په اند اوباور سره دامریکي ځانګړی ځواک  د تخنیکی تړاو  په نظرکی نیولو سره ځمکنی یا پلی قوتونه نه دی  هغه یعنی اوباما  داسی  نیت  لری  چی

باید په افغانستان کی دنظامیانو یوه کوچنی کاری اوماهر ډله دیو ګارد په څیر دامریکی د سپینی ما ڼي دهغه سیاست دپلی کولو په منظور دی په افغانستان کی پا تی شي یعنی دآسیا دوچي د محوری سیاسیی جغرافیا سره په اړین ، نو دهمدی مطلب په نظر کی نیولو سره له ډیرو کلونو څخه لاتراوسه مونږ دکا بل درژیم سره دخپل سرتیرو د پا تي کیدو چني وهو چی د کا بل حکومت مونږ سره موافقه وکړی چي زمونږ یو ډله کاری اوماهر نظا میا ن دلته په افغانستا ن کي پا تي شي داهغه څه دی چی داوباما طرح اوپروګرام دی .

نو دپورتنیو یادونو په نظر کی نیولو سره که چیری دکابل حکومت زمونږ غوښتنی ومنی نو په هغه صورت کی مونږدهغه په بد ل کي پوره چمتو یا ستو چی دافغانستان داردواودپولیسو په روزنه اود افغانستان ددولت د مالی چاروپه پیاوړتیا کی په میلیاردونو دالر مرستی ترسره کړو ، نودهمدی مطلب په نظر کی نیولو سره مونږ اودافغانستا ن دولت دیو دوه اړخیز ستراتیزیکی اوامنیتی تړون مسوده چمتو کړی چی دغه مسوده باید لاس لیک شی اما دافغانستان جمهور ریس ښاغلی حامد کرزی ددی سند دلاس لیک کولوڅخه ډډه کوی اووایی چی دغه سند با ید دجمهوری ریاست د ټولټاکنو څخه وروسته چی داپریل په میاشت کال (۲۰۱۴) کی ترسره کیږی دنوی انتخابی جمهورریس پواسطه سره لاس لیک شی ، چی ددی سند دلاس لیک کیدو بیرته اچو نه د سپینی ماني د اوبال ددفتر زمامدار خواشینی کړی او له کرزی څخه ِغوښتنه کوی چی بی له کوم ځنډ باید دغه سند لاس لیک شی . په هرصورت د دغه موضوع په اړین کارپوه ښاغلی مارا شلاکوب (Mara Tchalakov ) د جنګ اود جګړی د مطا لعا تو په انیستیوت کی په لاندی بڼی سره څرګندونه کوی :

په افغانستان کی دامریکی دسرتیرو اود د فاعی پایما نکارانو دحق مصونیت قانونی پرسر با ندی ژور تقسیمبندی یا دوه اړخیزی نانداری اوشخړی را مینځته شوی او دبلی خوا څخه دامریکا یا نو د سرتیرو د شپی له خوا په عملیاتونو کی او د هغو له خوا دافغانانو شخصی کورونو ته ورننوتل هغه څه دی چي د ډیرو افغانانو قهر او غضب را پارولی دي نو دهمدی لانجی اود پرابلم په نظر کی نیولو سره کرزی غواړی چی د سیاسی ملاتړ دلاسته راوړو د پاره وخت اوزمان تر لاسه کړی او په همدی خاطر هغه غواړی چی دانتخابات تر وخته پوری دوخت د ګټلو په منظور انتظار وکاړی تر څو چی د انتخا با تو په درشل کی دموجوده پرابلم دحل دپاره په سر خلاص بڼی سره له سره مذاکری ته کیښینی او ستونزه حل کړي .

تردی مرحلی پوری هیڅوک نه پوهیږی چي په راتلونکی ټول ټاکنو کی به څوک ګټونکي وي ، له هغه ځایه چي کرزی دوه ځلی دافغانستان دجمهوری ریاست په ټول ټاکنوکی ګدون کړی وه اودقانون له مخی ددریم ځل دپا ره جمهوری ریاست ته ځان نشی نومولی اودبلی خوا څخه سره دهغه چي کرزی دامریکی دمتحده ایالات دګوډاګی

یا دنانځکی په ښه شهرت ترلاسه کړی اما اوس هغه په دی ښه پوه شوی چی څرنګه دامریکی دمتحده ایالاتو دآوامرو څخه سرغړونه وکړي خصوصاً په دی بهانو سره چي ولی امریکایان دشپی له خوا په عملیاتونوکی دافغانانو شخصی کورونو ته ورننوځی اوبی ګناه ملکی افغانان وژنی اوامریکی غواړی چي په افغانستان کی یو بشپړ ګوډاګی او فرمانبردار رژیم ولری چی دهغه اوآمر پرځای کړي .

سپینی مانۍ یو کال دمخه داسی انتظار لرل چی هغه د افغانستان د دولت سره به دیوی داسی توافقی سند دلاس لیک کولو فرصت به ترلاسه کړی سره له هغه چي کرزي اووسی اویا که ونه اوسی اود بلی خوا څخه په دی هم ډاډه وه چی د طالبانو مخا لفین اودامریکی دمتحده ایالاتو د شمال ټلوالی اتحاد او ځنی دوست حزبونو لکه د تاجکانو دجمیعت اسلامی نا می ګوند به په راتلونکی انتخا با توکی بریا لیتوب ترلاسه کړی اودامریکی دمتحده ایالاتو ټول هیلی به تر سره کړي لکه چي په ورته بڼی سره په عراق کی امریکایانو داسی انګیرل چی دخپل سترتیرو د راایستلو په اړین دعراق ددولت سره به داسی توافقی نامی لاس لیک کړی کوم چی دامریکی ګټی پکی خوندی وساتل شی اما نورالمالکی د(۲۰۱۱) په اخرنی میاشتو کی دسند د امضا کولو څخه سرغړونه وکړ نه داچی نوموړی توافقنامه یی لاس لیک نکړ بلکه دامریکایانو پرضد دخپل خلکو او ددولت قهر اوغضب وښودل.

دپورتنی یادونو څخه په یوه معنی سره دا دامریکی دمتحده ایالاتو نیکمرغی ګڼل کیږی چی دعراق څخه روغ رمټ راووتل ، اوکه چیری دامریکی سرتیری اوس په عراق کی میشته وایي نو هرومرو دالقاعدی اودعراق دسنی مذهب افراطی جنګیالی سره کوم چي اوس دنورالماکی دشیعه مذهب دولت سره په جګړه بخت دی مخامخ کیدل داسی یوی جګړی سره کوم چي په کال(۲۰۱۳) کی یواخي (۷۳۰۰) ملکی عراقیان او(۱۰۰۰) کسه عراقی امنیتی پرسونل خپل ژوند دلاسه ورکړل چی دغه مړی اکثراً شیعه مذهب عراقیان وه اواکثرأدغه مړی دهغو دمخالفینو له خوا اعدام شوی اویا په بمونوسره الوتلي دي ، سپینی مانۍ اوس ځپل ډیر ژور اندیښنه اونګرانی د صدام حسین دسکولر رژیم د نسکورید و په اړه را ښیی اما اوس دامریکی زیات تشویش او نګرانی په دی کی دی چي سنی مذهب افراطی ډلی ټپلی اود القاعدی سره په پوره وابستګی هم په عراق اوهم په سوریه کی بریالیتوبونه تر لاسه کړی .

دالقاعدی وابستګی یا د [« ISIS » دعراق اودسوري نوی اسلامی دولت ]یا دهغو بریالیتوب موضوع د نیویارک ټایم ددسمبر په «۲۶» نیټه کی هم خپورشو.

« پرعراق باندی دعراق درژیم په طرفداری دبی پیلوټه الوتیکوددوزخی اورغورځونکی دبی شمیرو مزایلو وارو ګذار د القاعدی جنګیالی ته دا فرصت په لاس ورکړل چی اکثرعراقیان دامریکی اود هغه د مزدور حکومت په وړاندی خپل کرکه بیان کړی اود القاعدی د پاره چا نس تر لاس شو چی په عراق کی دخپل تسلط لمن لا پسي وغزوی.

دجون په دریمه نیټه نیویارک ټایم بیا یوه بل تازه ګذارش په لاندی متن سره په نشر ورسول :
افراطی عراقی سنی مذهب جګړه ماردالقاعدی سره په وابستګي وتوانید ل چي دعراق په فولوجه اورامیدی کی کوم چی دعراق دوه ډیر مهم ښارونه دی خپل د تسلط منګولی ښخ کړ اودواړه ښارونه یی ترخپل ولکی راوستل ،اوهغه داچی القاعده اودعراق افراطی سنی مذهب جنګالی په نوموړی ښارونو کی له هرڅه نه مخکی دهغه ښارونو د پولیسو اودامنیتی په تم ځایونو او شعباتو باندی یرغل ویوړل او هغه ځا یونه یی دخاوری سره خاوری کړل . ټول زندانیان یی له زندان څخه آزاد کړل اودهغه ښارونو ټول واک یی پخبل لاس ونیول .
ددی مقالی ډیر عمده برخه چی باید پرهغه باندی یوڅه تم شو هغه دادی چی افغانستان په دوه لاندی دلیلونو دواشنګټن دپاره ډیر حیاتی ارزښت لری چي دغه دلیلونه عبارت دی له :
لمړی اوواضح دلیل دا چی امریکا اوس په افغانستان کی یوه وړوکی ډلی کوم چي اکثر یی نخبګان او دقدرت خاوندان دی ترخپل ولکی لاندی لری اوپه ورین تندی دامریکی دمتحده ایالاتو دګټو ساتونکی دی اوداځکه چي خپل ګټی دامریکی په ګټو کی ګوری ، اودبلی خوا څخه امریکی اوس په دی هم پوهیږی چی که چیری د دغی ډلی په ګټو کی څه ستونزی را پیدا شی یعنی دهغو ګټي په خطرکی ولویږی بیا ن له دغه موقف څخه سر غړوی لکه چي په کال (۱۹۹۰) کی دغه جهادی امریکایی پلوه ډلی په کابل کی د قدرت د رانیول پرسرځبل مینځی جګړی باندی پیل کړترهغه چي طالبانوپه کال ( ۲۰۰۱-۱۹۹۶)هغوی له صحنی څخه وشړل اوبیا داسی وخت راورسید چي امریکایان پرافغانستان باندی یرغل ویوړل اوخپل روزل شوی طالبان یی له مینځه ویوړل .
دوهم ډیر ښه پیژند ل شوی دلیل دادی چي افغانستان له هر پلوه دامریکی دمتحده ایالاتو د ګټو د پاره ډیر داهمیت وړ جیوپولیتیکي اهمیت لری اوهغه داچی د پنتاګون دپاره په مرکزی آسیا کی به یواځنی لمړنی نظامی اډی (پایګاه ) وی کوم چی په غرب کی د ایران اوپه شرق کی د پاکستان سره اوله ټولونه مهم د چین سره په شمال کی اوهم په شمال غرب کی د مخکینی شوروی اتحاد د هغو هیوادونو سره کوم چی دانرژی دمنابعو په لرلوسره ډیر غنی او شتنمن هیوادونه دی ګا ونډیتوب لری یعنی دامریکی متحده ایالاتو له دغه نظامی اډی څخه کولای شی پورتنی هیوادونه اوهم په شمال کی ننی فدراتیف روسیه ترخپل نژدی څارنی اونظارت لاندی ونیسي .
( په مرکزی اسیا کی ددیرو هیوادونو رهبری د مخکینی زوړو رهبرانو په لاس کي دی اوداسی را ښکاری چي دهغوی ځای ناستي (جانشین) لا تراوسه ندی څرګند اودا پخپله د هرج مرج (اړو دوړو ) دپاره ډیر مساعد بها نی ګڼل کیږی چی په یو وړوکی تفتین سره کیدای شی په نوموړی هیوادونو کی اړدوړ را مینځته شي اوداځکه چی ددغه

هیوادونو ځوان نسل هر شیبه په دی لټه کی دی چي ددی هیوادونو رهبری تر لاسه کړی .

ددی پورتنیو یادونو په نظر کی نیولو سره دامریکی دپاره ډیر غوره چانس دادی چی باید دلته دایمی حضور ولری اودهمدی وروستی دلیل په نظر کی نیولو سره واشنګتن دوه کاله دمخه دامریکی د با ند ینیو چارو دوزیر اغلی هیلری کلتون له خوا د ورینیمین دلاری په بیا رغونو با ندی خپل چمتوالی په ډاګه کړ ، اوامریکی دخپل نړیوال هژمونی دپاره غواړی چی په دغه منطقه (دمرکزی اسیا په هیوادونوکی ) کی خپل اقتصادی ستراتیزی ته وده ورکړی او د منطقی شتمن منابعو ته لاسرسی پیداکړي، اودچین مخه ونیسی لکه هغسی چي دمارچ په (۲۳) کی رابرت او بلک (Robert O Blake Jr ) دامریکی دخارجه وزارت مامور په دی مورد کی داسی وویل :

« هغه یوه ډیر فعال او راجلبونکی سیمه چی با ید پرهغه با ندی داقتصادی ودی او غښتلتیا له پلوه ژور فکر وشی هغه سیمه له ترکیی ځخه پیل بیا د کسبین د بحر تر سرتاسر ، مینځنی آسیا اوبیا تر افغانستان پوری هغه سیمه دی چی دیوی ګډ همکاری او مرستی سره کیدای شی چی دبریالیتوب تینګ او ثابت فرصتونه په لاس کی ورکړي مګرسره ددغه مساعد شرطونو او فرصتونو په نظر کی نیولو سره مونږبیا هم په ډیر روڼ سترګو د منطقی چلنجونو او مسابقی ته ژور ګورو نوپه همدی لحاظ سره مونږ غواړو چي په افغانستان کی رینتیا نی بریالیتوبونه ترلاسه کړو اوپه منطقه کی غواړو چی د تشویش د مینځه وړلو د پاره دامنیت په لټه کی شوو اود دی غوښتنی په نظر کی نیولو سره مونږ دهر ډول چلنچ اومسا بقی د پاره چمتو یاستو . اوله دی کبله مونږ غواړو چی خپل مناسبات دافغانستان اودسیمی دهیوادونو سره لا پسی ښه کړو ».

اما بلک د« امنیتی چلنچ » تعریف روښانه نکړ چی یعنی کوم ډول «امنیتی چلبنج» شا ید چی دا منیتی چلنج مفهوم دهغه په ذهن کی اووسی ، اما دی ته دی هم پام وساتی چی دهغه رقیبان یعنی روسیه او چین هم غواړی چی د منطقی د هیوادونو سره خپل تجارتی اړیکو ته پراخوالی ورکړی او په مینځنی آسیا کی خپل نفوذ تینګ کړی او داځکه چی دغه هیوادونه د روسیي اود چین په مجاورت کی پروت دی اودامریکی سپینی ما نی کم تر کمه ممکن په دی فکر وکړی چی « امنیتی چلنج » یعنی دروسی اود چین سره ، تعریفول دی ..

------------------------------------------- په درناوی